UNAMA
دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان
دفتر ارتباطات استراتیژیک و سخنگوی، کابل، افغانستان

مطبوعاتی بیانیه

http://unama.unmissions.org

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی یان کوبیش د ټاکنیز کمپاین د دوو کار کونکو وژنه په کلکه غندی**

**کابل ، د ۲۰۱۴ کال د فبرورۍ ۲ نېټه -** د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی یان کوبیش د ټاکنیز کمپاین لپاره د جمهوري ریاست د نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله د ټاکنیز ټیم د دوو غړو وژنه په سختو ټکو سره غندي. هغوی د شنبې د شپې پر مهال د ناپیژندو وسله والو له خوا په ډزو و وژل شول.

ځانګړی استازی په دغه جنایت کارانه عمل کې د وژل شویو کسانو کورنیو، دوستانو او همکارانو ته د خپلې ژورې غمرازۍ مراتب څرګندوي.
دغه برید په داسې حساس مهال کې چې افغانستان د ټاکنیز کمپاین په درشل کې دی او هېواد د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو ټاکنو ته د حمل په میاشت کې چمتوالی نیسي تر سره شو. دغه ناځوانمردانه عمل د تاو تریخوالي یو داسې عمل دی چې د ټاکنو د نوماندانو او د هغوی د ملاتړو د ویرولو لپاره تر سره شوی او د زغملو وړ نه دی.

ځانګړی استازی له ملي چارواکو څخه غواړي چې لازم تدابیر ونیسي او د دغه جنایت عاملین د عدالت منګولو ته وسپاري. هغه د افغانستان په امنیتي ځواکونو باندې غږ وکړ چې د ټاکنو لپاره په راتلونکو اونیو کې په بشپړه توګه څیر او هوښیار و اوسي.

ځانګړی استازی هر ډول داسې هڅې چې ټاکنیز بهیر او د وري په شپاړسمه نېټه د ټاکنو د تر سره کېدو بهیر تر پوښتنې لاندې راولي ناوړه بولي او په کلکه یې غندي. د افغانستان خلک باید په دې وتوانیږي چې د خپل بنیادي حق څخه برخمن شي او په دموکراتیکه توګه خپله اراده د رایې د اچولو له لارې په یوه داسې فضاء کې چې د ډار او تاوتریخوالي څخه خالي وي څرګنده کړي.

ځانګړی استازی په ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي چې په سوله ییزه توګه د ټاکنیز بهیر بشپړتیا او د ټاکنو تر سره کیده په هغه نېټه چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا ټاکل شوې ده باوري کړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**